مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم
۲۰۲۳/۰۲/۲۱

ځومره چې پردي ښکارېږو، هومره سره خپل یو موږ

مور مې د کابل دري ژبې ده. زما ټول عمر له ماماخېلو سره تېر شو. ژبه مې د دوی زده کړه، د لوبې ملګري مې د ترور زامن وو. پښتو مې په لوېینه کې ان له ښوونځي تر فارغېدو وروسته زده کړه. زما د ماما خېلو په لهجه کې د پښتو ځينې کلمې هم وې مثلاً مور به مې ویل: «او بچه اوچت شو، بخیز، کالا ره غند کو» یعني: وه هلکه اوچت شه، پاڅېږه کالي راغونډ کړه، تروږزي به مې چې د خپل جنګ کیسه کوله، ویل یې: «سرش توپ کدم» یعني: پرې ورټوپ مې کړل، ماما به مې ویل: «کالای خوده آلش کدم، یک پتی گندنه کاشتم، دستم اوګار شد باز سرش پتی ماندم»مانا دا چې: کالي مې الېش کړل، یو پټی ګندنه مې وکرله، لاس مې ژوبل شو بیا مې پټی ورباندې کېښود. دلته «اوچت، توپ = ټوپ، آلش = الېش، پتي = پټی، پتي = پټی، غند = غونډ» پښتو دي، دې ته ورته پښتو کلمې د دوی په لهجه کې کمې نه وې. په فارسي کې ډېرې نورې کلمې شته چې پښتو ته ورته دي.
پښتو او فارسي دواړه آریاني ژبې دي. د پښتو ژبې انا او اويستا سره خويندې وې (پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې، ډاکتر مجاور احمد زيار). پښتو د آرياني ژبو په شرقي او فارسي يې په غربي ډلې پورې تړاو لري. د همدې خپلوۍ په وجه داسې ډېرې کلمې لرو چې د يوه غږ په بدلېدو سره په پښتو او فارسي کې مشترکې دي:
×د فارسي «د» په پښتو کې په «ل» بدلېږي:

پدر = پلار
جدا = جلا
داس = لور
دامن = لمن
دختر = لور
دست = لاس
دور = لرې
دید = لید
دیدن = لیدل
دیده = لیمه
سپند = سپېلنی
ده = لس
دام = لومه
دنبه = لم
داشتن = لرل
دود = لو = لوګی
درو = لو
دروګر = لوګر
دُم = لم = لکی
دیوانه = لیونی
دوشیدن = لوشل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دمه (غبار) = لړه
صد = سل (زما په ګمان دا کلمه باید په دري کي«سد» وي ځکه چي دا کلمه عربي نه ده او په دري کي «ص» نشته. همدارنګه شصت (شپېته) هم باید په «س» ولیکل شي.)
×د فارسي «ګ» په پښتو کي «غ» شي:
ګاو = غوا
ګندم = غنم
ګز = غز
ګوشت = غوښه
ګوش = غوږ
×فارسي کي «ب» پښتو کي «و:»
بره = وری
برف = واوره
بشنو = واوره
برادر = ورور
ابر = وريځ
ابرو = وروځي
بر = سور
برنج = وریجي
بز = وزه
بزغاله = ورغومی
باران = ورینګی (د خوست او پکتیا په لهجو کي)
باریدن = ورېدل
بید = وله
ګریبان = ګرېوان

یادونه: دغه بدلون په فارسي کي هم لیدل کېږي مثلاً په عامیانه فارسي کي آب = او، سیب = سیو، شب = شو، آفتاب = افتو، مهتاب = ماتو بلل کېږي.
×د فارسي «ج» په پښتو کي په «ځ» یا په «ژ» اوړي:
جان = ځان
جګر = ځيګر
جوان = ځوان
جوان = ژنی
رنج = رنځ
رنجور = رنځور
جای = ځای
جوییدن = ژوول
جلا = ځلا
جنګل = ځنګل
جناور = ځناور
جواب = ځواب
جور = ځور
جولی = ځولی
جیل = ځېل
×د فارسي «رد» د پښتو له «ړ» سره برابرېږي:
آرد = اوړه
سرد = سوړ
مرد = مېړه
مُرده = مړی
زرد = زېړ = ژړ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

بردن = وړل
خوردن = خوړل
گرد = دوړه
کردن = کړل
گردن = غړی = غاړه
گردن بند = غړوندی
دل) په زړه فارسي درد dird ویل کېده = (زړه
×د فارسي «ن» پښتو کې په «ل» بدلېږي:
نماز = لمونځ
نواسه = لمسی
نیش = لېشه
نوشتن = لیکل
×ځيني کلمې په فارسي کې «چ» لري او پښتو کې «ځ:«
لُچ (برهنه) = لځ = لوڅ
چرم = څرمن
چند = څو
چاه = څاه
چادر = څادر
چارپای = څاروي
چیری = څېر
چپلی = څپلی
چک = څک
چرخ = څرخ
چهار = څلور
چهل = څلوېښت
چله = څله = څېله
سمچ = سمڅه
چمچه = څمڅی
چه = څه
چهره = څېره
چیر (پاره) = څیر
چراغ = څراغ
×په ځینو کلمو کې د فارسي «ز» او د پښتو «ځ» سره معادل توري دي:
زمین = ځمکه
زمچ = ځنځ
روز = روځ = ورځ
×د بدن د ډېرو غړو نومونه په فارسي او پښتو کې ډېر سره ورته دي:
سر = سر
گردن = اورمېږ = غاړه
اشک = اوښکه
بینی = پوزه
بیره = وری
بروت = برېت
ریش = ږیره
زنخ = زنه
گونه = اننگي
گوش = غوږ
انگشت = گوته
ناخن = نوک

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

ناف = نوم
پای = پښه
ران = ورون
زانو = زنګون
دیده = لېمه
شانه = اوږه
لپ = لپه
خال = خال
پیکی = پیکی
×په فارسي او پښتو کې د کر کیلي نومونه او اصطلاحات وګورئ:
کشت = کښت = کر
کاشتن = کرل
پلوان = پوله
پتي = پټی
ګل = ګل
ګلاب = ګلاب
بته (بوته) = بوټی
نهال = نیالګی
جوار = جوار
ګندم = غنم
رشقه = شپیشته
ارزن = ږدن
ماش = مې
نخود = نخود
لوبیا = لوبیا
برنج = وریجې
شالي = شولې
دال = دال
×د کور برخې، لوښي کودي او کالي:
خانه = خونه
چت = چت
دیوار = دېوال (په عامیانه فارسي کې هم دېوال ویل کېږي)
کلکین = کړکۍ
ارسی = اورسي
بام = بام = بلی
الماری = الماری
دیګ = دېګ
کاسه = کاسه = تالی
تشت = تال = ښانک
پیاله = پیاله
قالین = غالی
بوریا = پوزی
کالا = کالي
جامه = جامه
پیزار = پڼې
×د خوراکي توکیو سره ورته نومونه:
شیر = شیدې
ماست = مستې
چکه = چکه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

پنیر = پنېر
مسکه = کوچ
مایه = موره = تومنه
مرچ = مرچ
آب = اوبه
نان = نغن (په خوستواله لهجه کې د غنمو ډوډۍ ته نغن ویل کېږي)
×په زمان پورې اړوند اصطلاحات:
شب = شپه
روز = ورځ
ماه = میاشت
سال = کال
×د ځارویو او مارغانو په نومونو کې هم مشابهتونه کم نه دي:
اسپ = آس
شتر (اوشتر) = اوښ
مېش = مېږه
گوسپند = پسه
گاو = غوا
بز = وزه
بره = وری
خر = خر
مرغ = مارغه
کبک = زرک
آهو = هوسۍ
باز = باز
شاهین = شاهین
کبوتر = کوتر
زاغ = کارغه
سگ = سپی
پشک = پیشو
پلنگ = پړانګ
مار = مار = منگور
غندل = غنډل
مُرچه = مېږی

ممکن په زرګونو داسې نورې کلمې هم ومومو چې زموږ په ژبو کې سره ورته یا مشترکې دي. دغه ورته والی ښیي چې پښتو او فارسي (دري) سره خورا نژدې ژبې دي، هماغسې چې ویونکي یې هم دواړه آریایي قبیلې دي. البته پښتو او فارسي د هېواد له نورو ژبو لکه پامیري، اورمړي، ګواري، شغناني، پراچي، پشه یي، نورستاني او نورو هغو سره هم زیات مشترکات لري.
زموږ ژبو ته له اسلام سره راغلیو عربي لغتونو د دې ژبو تر منځ مشترک اړخونه لا زیات کړي دي. د دغو طبیعي مشترکو لغتونو یوه ګټه دا ده چې د یوې ژبې ویونکي به وکولای شي بله ژبه نسبتاً په اسانۍ سره زده کړي.
له بده مرغه نن سبا هم په پښتنو او هم په دري ژبو کې داسې کسان او کړۍ راپیدا شوي دي چې د مشترکو لغتونو په تصفیې پسې راوتي دي. دوی هڅه کوي هغه عربي لغتونه چې له زرو کالو زیات عمر یې له موږ سره تېر دی، او موږ ته بیخي پردي ښکاري نه، پسې واخلي. ځینو دري ژبو خو د «ایرانیزېشن» داسې پروسه پیل کړې ده چې د دري خپل لغتونه او اصطلاحات هم له خپلې ژبې شړي او پر ځای یې ایراني معادل یې واردوي. د دري ژبې پخوانو میرزایانو د خپلې ژبې د اصطلاحاتو او لغتونو
پر ځای، د عربي ژبې کلمې کارولې. دوی د «دراز» پر ځای «طویل» او د «شب» پر ځای «لیل» غوره بلل. دا کار به یې ځکه کاوه چې ځان مهم او پوه وښیي، میرزایي ژبه سخته او د عوامو تر ژبې اوچته وښیي او خلکو ته داسې ښکاره کړي چې میرزایي د هر چا کار نه دی. د دې کار نتیجه دا شوه چې د دري ژبې د ویلو او لیکلو ښې ډېرې سره لرې شوې. اوس هماغه کار «ایران ځېلو» لیکوالو راخیستی، دوی ته هغه څه معیار ښکاري چې ایرانیان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يې ليکي. مثلاً د «خوش داشتن» پر ځای په ټولو موردونو کې «دوست داشتن» ليکي: «من سيب را دوست دارم» حال دا چې په دري کې «خوش داشتن» يعنې «ښه اېسول، خوښول» او «دوست داشتن» يعنې «مينه لرل». بده لا دا چې يو شمېر ځوانان بې له دې چې د دې کار ګټې او تاوان ته وګوري، په پټو سترګو د دې «مشرانو؟!» پيښې کوي.

موږ هغسې چې په ظاهره کې ښکاري، سره پردي نه يو؛ بکلې هم د قوم په لحاظ او هم د ژبې پر اساس سره خپل يو. که دغه خپلوي سره وپالو، ملي يووالی به مو په برخه شي او وطن به مو د سوکالۍ په لوري روان شي. دا د فرهنګيانو وظيفه ده چې د ژبو دغه خپلوي سره وپالي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ